


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشر نيټه : 29 جولای 2016 م

# د آسمانی اديانو پرله پسی راتلنه

د ميتولوجی او قيصو علم ثابتوی چه کوم هغه اسباب چه د هغو له مخی ځخه پخوانو د ابولو، عشتروت او بليس عبادت کولو په واقع کی دا د پخوانيو اديانو قصو او خرافاتو ته رجوع کوی دا علم وايی د کوم وخت ځخه چه انسان پيدا شوی دی اديان هم ورسره يوځای پيدا شوی دی.
کله چه انسان احتياج د نوی شی غوښتنه وکره او پروردګار ورته ياد شو نو دا وخت الله پاک رسولان او انبيأ واستول .
تاريخ مونږ ته بيانوی له کوم وخت ځخه چه الله(ج) ادم پيدا کړه ، اديان هم له هغه وخت ځخه پرله پسی راغلي او د وخت د احتياجاتو سره برابر نازل شوی دی.
ځومره چه دغه اديان ګوری د دغو ټولو آسمانی اديانو هدف الله( ج ) ته رجوع او د نيک عمل په خوا بلنه ده ، الله( ج ) د الانبيأ په سوره، ۲۵ آيات کښی فرمايی:
وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ( سوره ۲۱: الأنبياء ـ جزء ۱۷ ، ايه ۲۵ )
مونږ نه دی ليږلی په خوا له تا ځخه کوم پيغمبر مګر؛ وحی ورته شوی ده چه نشته بی الله ( ج ) پاک ځخه بل د عبادته وړ ، نو د ده لپاره عبادت وکړی.
الله ( ج ) د فصلت سوره ، ۱۴ ايات کښی فرمايی:
إِذْ جَاءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ (سوره ۴۱: فصلت- جزء ۲۴،ايات ۱۴)
کله چه د دوی تر په خوا او وروسته پيغمبران راغلي دی نو وويلی چه بی د الله پاک ځخه د بل چا عبادت و نه کړی.
الله تعالی د المؤمنون په سوره ، ۳۲ آيات کښی فرمايی:
فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ ( سوره ۲۳: المؤمنون ـ جزء ۱۸ ، ايات ۳۲)
بيا می دوی کښی د دوی د نوعی ځخه پيغمبران وليږل ترڅو و وايی د الله عبادت وکړی او بی له ده ځخه بل الله نه لری.

سعيد افغانی
۱۳۵۲ هجری شمسي

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی